# مالي راپورونه (Financial Statements)

Ketabton.com

علمي مقاله

ليکونکی: رفيع الله "سهر"

FACEBOOK.COM/RAFISAHAR33 WhatsApp: 0788751176

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مالي راپورونه Financial Statements

شتمني، پورونه، د سهم لرونکو خپلنۍ پانګې، عواید، مصارف، ګټې او د محاسبې داسې نور عناصر په مختلفو راپورونو کې ځای پر ځای کیږي چې د دې راپورونو مجموعې ته مالي راپورونه وايي. یو کمپنۍ کولای شي چې مالي راپورونه د کال په اوږدو کې هر وخت برابر کړي، خو اکثره لوې کمپنیانې او کاروبارونه یې معمولاً هره میاشت، هر درې میاشتې او د کال په آخره کې ترتیبوي او له مختلفو لارو یې نشر ته سپاري ترڅو د محاسبوي مالي معلوماتو داخلي او بهرني کارونکي ورڅخه آګاه شي. د وخت لپاره یې هیڅ ډول قیودات شتون نه لري یعني ټول کاروبارونه او کمپنیانې چې هر ډول کلیزه (جنتري) یا مالي کال د ځان لپاره ټاکې پدې برخه کې له پوره آزادۍ څخه برخمن دي نو همدا یې علت دې چې په مختلفو هیوادونو کې د مختلفو کاروبارونو او تولیدي کارخانو د مالي راپورونو د نشرولو وخت سره توپیر لري خو په نړۍ کې اکثره لوې کمپنیانې او کاروبارونه خپل د کاروبار مالي راپورونه په کلني ډول (د کال په آخره کې) ترتیبوي او بیا یې نشر ته سپاري. د هر کاروبار لپاره څلور ډوله مالي راپورونه جوړیږي، یعني مالي راپورونه عموماً په څلور ډوله دی چې عبارت دي له:

- ✓ **د ګټې او تاوان راپور Income Statement**
- ✓ **د سهم لرونکو د ملکیت (خپلنۍ پانګې) راپور Statement of Stockholder's Equity**
- ✓ **بیلانس شیټ Balance Sheet**
- ✓ **د نغدې جریان راپور Statement of Cash Flow**

## لومړۍ: د ګټې او تاوان راپور Income Statement

د مالي راپورونو له جملې څخه لومړنۍ راپور د ګټې او تاوان راپور (**Income Statement**) دی. پدې راپور کې معمولاً د یو کاروباري بنسټ ټول عواید او مصارف تر څیړنې لاندې نیول کیږي او دا راپور مونږ ته دا رابښایي چې نوموړې کمپنۍ په یاده مالي دوره کې ګټه کړې او که تاوان نو ځکه دې راپور ته (**Profit and Loss Account**) هم وايي.د **Income Statement** په سرلیک کې درې برخې شاملې دي چې عبارت دي له: **څوک، څه او کله**.

**څوک**: هدف ورڅخه د کمپنۍ یا کاروبار نوم (**Firm Name**) دی، د هر **Income Statement** په سرلیک کې لومړۍ د اړونده تصدي یا کاروبار رسمي نوم لیکل کیږي مثلاً: فقیر وهاب تولیدي شرکت، الکوزی د غیر الکولي مشروباتو کمپني، د ګوګل سهامي شرکت او داسې نور...

**څه**: له **څه** څخه هدف د مالي راپور نوم دی، یعني دغه مالي راپور چې جوړیږي دا کوم راپور دی، د ګټې او تاوان راپور دی، بیلانس شیټ دی او که کوم بل مالي راپور دی.

**کله**: لدې برخې څخه هدف د نوموړي مالي راپور د ترتیب معمول نیټه دی، لکه څنګه چې مخکې هم ویل شوی هر کاروبار خپل مالي راپورونه په مختلفو وختنو کې ترتیبوي مثلاً بعضې یې په میاشتنۍ ډول، بعضې یې په ربع وار ډول (هر درې میاشتو کې) او بعضې یې په کلنۍ ډول ترتیبوي نو پدې برخه کې باید د مالي راپور د ترتیب ټاکل شوې نیټه په ګوته شي. خو د یادوني وړ ده چې د نړۍ هغه لویې کمپنیانې او تصدۍ چې په میلیونونه او میلیاردونه ډالر عواید او مصارف لري د خپلو مالي راپورونو په سرلیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Heading) کې ځلورمه برخه هم شاملوي چې هغه د ارقامو او کرنسي په هکله وي، مثلاً پدې برخه کې داسي لیکل کیږي چې دغه ارقام په میلیونه ډالره ده او که په میلیاردونه ډالره خو په یاد ولرئ چې کرنسي د کاروبار په خوښه لیکل کیږي لکه اکثره لوي کمپنۍ لکه **Apple** چې عواید یې په هر کرنسي وي خو دوي یې معادل ډالر لیکي همدارنګه د **Nestle** کمپنۍ په سویس فرانک، د **LEGO** کمپنۍ په ډنمارکي کرون او د **ADIDAS** کمپنۍ په یورو باندې خپل عواید او مصارف په **Income Statement** کې لیکي. د ګټې او تاوان راپور په متن کې درې مهم عناصر شامل دي چې عبارت دي له: عواید، مصارف او خالصه ګټه. لومړی د کاروبار که کوچنۍ وي او که لوي ټول عواید د عوایدو د عنوان لاندې لیکل کیږي بیا ټول مصارف د مصارفو د عنوان لاندې لیکل کیږي او په پای کې مجموعي مصارف له مجموعي عوایدو څخه تفریق کیږي. بیا له لاندې دوو حالاتو څخه یو حالت رامنځ ته کیږي:

- **Revenues > Expenses = Profit**
  یعني که د کاروبار عواید له مصارفو څخه زیات وي نو دا پدې معنی ده چې کاروبار په نوموړي مالي دوره کې ګټه کړیده.
- **Revenues < Expenses = Loss**
  دا پدې معنی ده چې د کاروبار عواید له مصارفو څخه کم دي. یعني کاروبار په نوموړي مالي دوره کې له تاوان سره مخ شوی او تاوان یې کړی دی.

که چیرې داسي یو حالت رامنځ ته شي چې د کاروبار عواید او مصارف سره مساوي شي نو ظاهراً خو داسي ښکاري چې کاروبار نه ګټه کړې او نه تاوان، خو له منطقي پلوه کاروبار تاوان کړی ځکه چې وخت یې ضایع شوی. په یاد ولرئ چې په **Income Statement** کې د مجموعي عوایدو او مجموعي مصارفو لاندې یوه کرښه ویستل کیږي او کله چې خالصه ګټه یا تاوان معلوم شي نو ورلاندې دوه کرښې ویستل کیږي.

| **XXX Group of Companies**<br>**Income Statement**<br>**For The Month Ended XXX 3X, 20XX** | |
|---|---|
| **Revenues** | |
| • XXX Revenue | $ XXX |
| • XXX Revenue | XXX |
| • XXX Revenue | XXX |
| **Total Revenues** | **$ XXX** |
| **Expenses** | |
| • XXX Expenses | XXX |
| • XXX Expenses | XXX |
| • XXX Expenses | XXX |
| **Total Expenses** | **XXX** |
| **Net Income/ Loss** | **XXXX** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عوایدو **(Revenues)** برخه کې لکه څنګه چې مخکې وویل شو ټول عواید که هغه د تولیداتو له فروشاتو څخه لاسته راغلی وي، که له خدماتو څخه لاسته راغلي وي او یا له کوم بل مدرک څخه لاسته راغلي وي لیکل کیږي، بیا ټول سره جمع کیږي او مجموعي عواید لیکل کیږي او ورلاندې یوه کرښه ویستل کیږي ترڅو لوستونکی پدې پوه شي دا مجموعي عواید دي. د مصارفو لپاره هم همدا ډول عمل کیږي او له هغې وروسته مجموعي مصارف له مجموعي عوایدو څخه منفي کیږي او کوم تفاوت چې د مجموعي عوایدو او مجموعي مصارفو ترمنځ واقع کیږي که علامه یې مثبت و نو دیته خالصه ګټه **(Net Income)** وایي او که علامه یې منفي راغی نو بیا هغې ته خالص تاوان **(Net Loss)** وایي.

اوس راځو عملاً د یو کمپنۍ ازمابښتي بیلانس **(Trial Balance)** په پام کې نیسو او د ګټې او تاوان راپور ورته جوړوو او بیا په لاندې توګه عمل کوو:

**Google Inc.**

**Adjusted Trial Balance**

**As of July 31 2021**

| Name of the account | L.F | Debit Balance | Credit Balance |
|---|---|---|---|
| Cash | | $ 13000 | |
| Equipment | | 14000 | |
| Supplies | | 500 | |
| Accounts Receivable | | 2500 | |
| Software | | 6000 | |
| Salaries and Wages Expense | | $ 5000 | |
| Rent Expense | | 2500 | |
| Utilities Expense | | 1600 | |
| Insurance Expense | | 300 | |
| Advertising Expense | | 100 | |
| Income Tax Expense | | 500 | |
| Retained Earnings | | 2000 | |
| Dividends | | | 1000 |
| Common Stock | | | $ 10000 |
| Sales | | | $ 9000 |
| Service Revenue | | | 3000 |
| Note Payable | | | 20000 |
| Account Payable | | | 5000 |
| Total | | $ 47000 | $ 47000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر وکړئ چې پورتنی آزمایښتي بیلانس له مخکي نه د محاسبینو له لوري د **ګوګل سهامي شرکت** لپاره جوړ شوی دی او اوس مونږ غواړو د همدې ازمایښتي بیلانس **(Trial Balance)** د ارقامو په نظر کې نیولو سره د ګوګل کمپنۍ لپاره قدم په قدم څلور ډوله مالي راپوررونه جوړ کړو، نو راځو لومړی د ګټې او تاوان راپور **(Income Statement)** جوړوو:

| **Google Inc.**<br>**Income Statement**<br>**For The Month Ended July 31, 2021** | | |
|---|---|---|
| **Revenues** | | |
| • Sales Revenue | $ 9000 | |
| • Service Revenue | 3000 | |
| **Total Revenues** | | **$ 12000** |
| **Expenses** | | |
| • Salaries and Wage Expenses | $ 5000 | |
| • Rent Expenses | 2500 | |
| • Utilities Expenses | 1600 | |
| • Insurance Expense | 300 | |
| • Advertising Expense | 100 | |
| • Income Tax Expense | 500 | |
| **Total Expenses** | | **$ 10000** |
| **Net Income/ Loss** | | **$ 2000** |

**نوټ: دا د ګټې او تاوان راپور (Income Statement) ترټولو ساده او اسانه فارمټ دی، خو تاسي کولای شئ چې په مختلفو کتابونو او انټرنیټ کې د نوموړي راپور لپاره مختلف فارمټونه پیدا او زده کړئ.**

هر کله چې د ګټې او تاوان راپور جوړوئ نو دېته مو پام وي چې د عوایدو لیست لومړی لیکل کیږي او هغه هم په ترتیب سره لومړی زیات ارقام لرونکی بیا کوچنی ارقام لرونکی په همدې ترتیب له پورته نه ښکته خواته باید ولیکل شي. په دوهم قدم کې مصارف لیکل کیږي او د لیکلو ترتیب یې هم بلکل د عوایدو په شان دی.

په پورته راپور کې تاسي ولیدل چې د ګوګل کمپنۍ د جولاي په میاشت کې مجموعي **12000 ډالره** عواید درلودل چې له دې جملې څخه **10000 ډالره** یې مصارف په بر کې نیسي، نو کله مو چې له مجموعي عوایدو څخه مجموعي مصارف تفریق کړل نو په ډاګه شوه چې د ګوګل کمپنۍ د جولاي په میاشت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**2000 ډالره** ګټه کړې ده. اوس د کمپنۍ سهم لرونکي کولای شوي چې دغه ګټه ټوله په خپلو منځو کې وویشي او یا هم یوه برخه یې وویشي. هغه اندازه ګټه چې د کمپنۍ په شریکانو ویشل کیږي هغې ته توزیع شوې ګټه (**Dividend**) وایي او هغه برخه یې چې د کاروبار د لا حمایه کولو لپاره پاتې کیږي هغې ته ناتوزیع شوې ګټه (**Retained Earnings**) ویل کیږي. په پورتني آزمایښتي بیلانس کې که تاسې وګورئ د ناتوزیع شوې ګټې (**Retained Earnings**) اندازه ذکر شوې ده چې **1000 ډالره** ده، خو د توزیع شوې ګټې (**Dividend**) په هکله هیڅ هم نه دی لیکل شوی، په داسې حال کې چې د **Income Statement** مطابق کمپنۍ **2000 ډالره** ګټه کړیده نو له دې څخه معلومیږي چې د کمپنۍ سهم لرونکي له مجموعي ګټې څخه یوازې **1000 ډالره** یې په خپلو منځو کې ویشلي دي او باقي **1000 ډالره** یې بیرته په کاروبار کې د کاروبار د حمایه کولو (**Support**) لپاره ایښې دي. خو امکان لري چې په ځینو مثالونو کې په درکړل شوي ازمایښتي بیلانس کې د ناتوزیع شوي ګټې (**Retained Earnings**) او توزیع شوې ګټې (**Dividends**) اندازه لیکل شوی وي نو پدې صورت کې د حل لاره دا ده چې د توزیع شوې ګټې (**Dividends**) مجموعه د توزیع شوې ګټې (**Retained Earnings**) له مجموعي څخه تفریق کړئ. او حاصل یې چې هرڅومره راغی نو دیته **Ending Retained Earnings** وایي او بیا د راتلونکي دورې لپاره د **Beginning Retained Earnings** په نوم یادیږي.

په پورته راپور کې چې تاسې کوم **2000 ډالره** ګټه ګورئ په اکثره حالاتو کې دا پدې معنی هم نده چې کمپنۍ د جولاي میاشت کې په فزیکي ډول د **2000 ډالرو** په اندازه نغده لاسته راوړې ده، ځکه کیدای شي چې یو شمیر اجناس یا تولیدات چې د جولاي په میاشت کې پر مشتریانو (**Customers**) پلورل شوی وي قیمت یې په آګسټ میاشت کې تادیه شي یا دوه درې میاشتې وروسته یې قیمت تادیه شوی وي او مصارف هم په همدې شکل درقیاس کړئ، خو دغه **2000 ډالره** ګټه کول په یو میاشت کې د ګوګل کمپنۍ په ښه والي باندې دلالت کوي

## دوهم: د سهم لرونکو د ملکیت (خپلنۍ پانګې) راپور Statement of Stockholder's Equity

دغه راپور ته په ملکیتونو کې د تغیراتو راپور هم وایي او د محاسبوي دوران د څلورو مالي راپورونو له جملې څخه دوهم راپور دی. دغه راپور مونږ ته دا راښایي چې د یوې مالي دورې له پیل څخه ترپایه پورې د سهم لرونکو یا د کمپنۍ د مالک د ملکیت (خپلنۍ پانګې) په ارزښت کې څومره تغیرات رامنځته شوی دی یا په بل عبارت دا یو مالي راپور دی چې یو کمپنۍ یې د خپل بیلانس شیټ دیوې برخې په توګه نشروي. دا راپور مونږ ته د یو کمپنۍ د سهم لرونکو د سهمونو د ارزښت ښودنه کوي او د هر سهم په ارزښت کې تغیرات په ګوته کوي. دغه راپور مونږ ته ټول هغه حسابونه (**Accounts**) هم ښایي کوم چې د سهم لرونکو د ملکیت د پای ارزښت متأثره کوي لکه عمومي اسهام، خالصه ګټه، پانګه، توزیع شوې ګټه او داسې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپاره چې پدې راپور پوره پوه شئ نو تاسې باید د یو شمیر اصطلاحاتو په اړه معلومات ولرئ چې عبارت دی له :

- ❖ **سهم Share**

هغه سند ته ویل کیږي چې د هغې په ترلاسه کولو سره یو شخص د سهامي شرکت سره په ګټه او تاوان کې شریک کیږي د سهامي شرکت د تأسیس کیدو په وخت کې د ټولو سهمونو شمیر او د هر سهم اسمي قیمت معلوم وي چې په مالي بازار کې د خرڅلاو په نتیجه کې سهامي شرکت پیسې لاسته راوړي. معمولاً سهامي شرکتونه چې کله وغواړي پیسې لاسته راوړي نو دوي اسهام **(Shares)** بازار ته د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي چې دیته **Common stock or Unit of ownership** هم وایي، یعني ددې اسنادو په اخیستلو سره یو شخص د سهامي شرکت شریک (مالک) ګرځي.

- ❖ امتیازي اسهام **Preferred stock**

دا د سهامي شرکت هغه اسهام دي چې سهامي شرکت یې د پانګې د ترلاسه کولو لپاره نشر ته سپاري او هر هغه څوک چې پدې ډول اسهامو کې پانګه اچوونه کوي هغه د سهامي شرکت شریک (مالک) ګرځي دا اسهام د **Common stock** په نسبت قیمته دي او ګټې یې هم د **Common stock** په نسبت زیات دی. مثلاً کله چې کاروبار ګټه کوي نو تر ټولو لومړی د **Preferred stock** لرونکي ته خپله برخه ورکول کیږي همدارنګه نورې ګټې هم لري.

- ❖ **Additional Paid in Capital (APIC)**

**APIC** د هر سهم د اصلي قیمت او د بازار د قیمت ترمنځ تفاوت ته ویل کیږي. یعني د سهم د هغه قیمت چې پانګوال ورته آماده دي چې تادیه یې کړي او د اصلي قیمت تفاوت ته **APIC** ویل کیږي.

- ❖ **خالصه ګټه Net Income**

دغه برخه مخکې هم په **Income Statement** کې تشریح شوی دی یعني کله چې عواید له مصارفو څخه زیات وي نو دیته خالصه ګټه ویل کیږي.

- ❖ **تاوان Loss**

هر کله چې عواید له مصارفو څخه کم شو یعني مصارف زیات شو نو پدې حالت کې کاروبار له تاوان سره مخ کیږي.

د دې ترڅنګ یو شمیر نور اصطلاحات هم موجود دي چې تاسې کولای شئ چې په مختلفو کتابونو او انټرنټ کې یې پیدا او زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د Stockholder's Equity راپور فارمټ

*XXX Company*
*Statement of Stockholder's Equity*
*For The Month Ended XXX 3X 20XX*

| | Common Stock | Retained Earning | Other Income | *Total* |
|---|---|---|---|---|
| Balance (Month) 3X | $ XXX | $ XXX | $ XXX | *$ XXX* |
| Net Income for (Month) | | XXX | | *XXX* |
| Common Stock Issued | XXX | | | *XXX* |
| Balance For (Month) 3X | $ XXX | $ XXX | $ XXX | *$ XXX* |

**زيات وپوهيږئ:** لکه څنګه چي تاسي ګورئ پورتنی فارمټ د ګوګل کمپنی د مثال لپاره دی خو کيدای شي چي په ځينو نورو مثالونو کي يو شمير نورې برخې هم ولري لکه د **APIC** ، **Dividends**، **Treasury Stock** او داسي نور... په هغې صورت کې مونږ په لاندې توګه بيا عمل کوو:

Common stock + Preferred stock + APIC + Retained Earnings – Dividends – Treasury stock or repurchase of stock = Stockholder's Equity

**اوس** د ګوګل کمپنی هماغه پخوانی آزمايښتي بيلانس **(Trial Balance)** او د ګټي او تاوان راپور په نظر کي نيسو او د نوموړي کاروبار لپاره د **Stockholder's Equity** راپور جوړوو او په لاندې توګه عمل کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

*Google Inc.*
*Statement of Stockholder's Equity*
*For The Month Ended July 31*

| | Common Stock | Retained Earning | Other Income | *Total* |
|---|---|---|---|---|
| **Balance (June) 30** | $ 0 | $ 0 | $ 0 | *$ 0* |
| **Net Income for (July) 1st** | | 1000 | | *1000* |
| **Common Stock Issued** | 10000 | | | *10000* |
| **Balance For (July) 31** | **$ 10000** | **$ 1000** | **$ 0** | *$ 11000* |

پورتنۍ فارمټ د **Stockholder's Equity** راپور لپاره تر ټولو اسانه او ساده فارمټ دی خو تاسي کولای شئ چي په مختلفو کتابونو او انټرنیټ کي مختلف فارمټونه پیدا او زده کړئ:

**دریم: بیلانس شیټ Balance Sheet**

هغه مالي راپور دی چي د یوې مالي دورې په پای کي د یو کاروبار یا تصدی مالي حالت مونږ ته بیانوي او دې راپور ته **Statement of Financial Position** هم وایي. د بیلانس شیټ راپور د جوړولو هدف په یو معلومه دوره کي د کاروبار د شتمنیو، قرضونو او د مالکینو یا سهم لرونکو د پانګو د اندازو معلومول دی. د تیر په څیر بیا د بیلانس شیټ راپور سرلیک درې برخي لري چي عبارت دي: **څوک، څه** او **کله** چي دا برخه پخوا تشریح شوی دی او فکر نه کوم چي بیا ځلي تشریح ته یي ضرورت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په متن کې یې هم درې برخې شاملې دي چې عبارت دي له: شتمنۍ، قرضونه (**د کمپنۍ د شتمنیو په مقابل کې د بهرنیو اشخاصو ادعاوې**) او د کمپنۍ د مالک یا سهم لرونکو د سهم ارزښتونه (**خپلنۍ پانګې**).

- **شتمني Assets:** د شتمنیو په برخه کې لومړۍ جاري او بیا ثابتې شتمنۍ په ترتیب سره له پورته نه ښکته خوا ته لیکل کیږي، یعنې کوم شتمني چې ارزښت یې زیات ارقام لري هغه لومړۍ، کم ارقامو والا دوهم او په همدې شکل ټول لیکل کیږي او بیا ټول ارقام سره جمع کیږي او مجموعه یې لیکل کیږي او ورلاندې دوه کرښې ویستل کیږي.
- **پورونه Liabilities:**

د پورونو نه اصلي هدف د کمپنۍ یا کاروبار د شتمنیو په مقابل کې د بهرنیو اشخاصو ادعا (**Claim**) ده. د محاسبې هغه مساوات (**Assets = Liabilities + Owner equities**) چې په ابتدا کې د محاسبې په درسونو کې تدریس کیږي هغه مساوات دلته په بیلانس شیټ کې باید صدق وکړي یعنی د شتمنیو مجموعه چې څومره راځي هغه باید د خپلنی پانګې او قرضونو له مجموعې سره مساوي شي. پورتني مساوات ته د بیلانس شیټ مساوات هم وایي. پدې برخه کې ټول پورونه په ترتیب سره د پورته نه ښکته خوا ته لیکل کیږي او بیا ټول سره جمع کیږي او مجموعه یې لیکل کیږي.

- **خپلنی پانګه یا د سهم لرونکو د سهم ارزښت Stockholder's Equity**

پدې برخه کې په یواځیني ملکیت کاروبار کې د مالک ټوله خپلنی پانګه لیکل کیږي، په شراکت کاروبار کې د شریکانو د خپلنی پانګې مجموعه لیکل کیږي او په سهامي شرکتونو یا کمپنیانو کې د سهم لرونکو د سهمونو مجموعي او موجوده ارزښت  لیکل کیږي او بیا ناتوزیع شوې ګټه یا **Retained Earnings** ورسره جمع کیږي. اسهام بیلابیل ډولونه لري چې هر یو یې د ارزښت او امتیازاتو له پلوه سره توپیر لري خو مونږ هغې بحث ته نه ځو ځکه چې هغه جدا موضوع ده او ډیره تشریح غواړي. خو لکه څنګه چې تاسې ته پته ده په پورتني آزمایښتي بیلانس کې د **Common Stock** ذکر شوی نو راځو لنډ بحث پرې کوو:

**Common Stock** هم د ونډې اسهام دي چې په سهامي شرکت کې ددې سند لرونکي د ملکیت حالت ښایي. دې اسنادو ته **Unit of Ownership** هم وایي او په **UK** یا برتانیا کې ورته **Ordinary Shares** وایي او یو شمیر خصوصیات یې په لاندې ډول دي:

- ✓ ددې سند لرونکی کولای شي چې د رئیس په ټاکلو کې رایه وکړي یا خپل ځان د کمپنۍ ریاست ته کاندید کړي.
- ✓ ددې سند لرونکی د خپلې ونډې په اندازه د پور د ادا کولو مسؤلیت لري.
- ✓ ددې سند لرونکی حق لري چې توزیع شوې ګټه لاسته راوړي خو دا ګټه به ثابت نه وي ځکه چې د کاروبار ګټه ثابت نه دی، ممکن په یوه دوره کې کاروبار ډیره ګټه وکړي، په بله دوره کې کمه ګټه وکړي او یا هم کیدای شي په یوه دوره کې تاوان وکړي.
- ✓ ددې سند لرونکی کولای شي چې خپل ونډه په بل چا وپلوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په بیلانس شیټ راپور کې د شتمنیو مجموعه معلومه شوه بیا د پورونه مجموعه معلوموو او ورپسې د کاروبار د پانګې مجموعه معلوموو. په یاد ولرئ چې د شتمنیو مجموعه باید د پورونو او پانګې له مجموعي سره مساوي شي یعني د پورونو او پانګې مجموعي بیا سره جمع کیږي او کوم حاصل چې لاسته راځي هغه باید د شتمنیو له مجموعي سره مساوي شي ترڅو د محاسبې لاندینۍ مساوات صدق وکړي.

**Assets = Liability + Stockholder's Equity**

**د بیلانس شیټ راپور فارمټ**

**XXX Company**
**Balance sheet**
**For The Month Ended XXX 3X 20XX**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **Assets** | | | |
| **Current Assets:** | | | |
| ▪ | **XXX** | **$ XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| **(n)** | **XXX** | **XXX** | |
| **Total Current Assets** | | **$ XXXX** | |
| **Fixed Assets:** | | | |
| ▪ | **XXX** | **$ XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| **(n)** | **XXX** | **XXX** | |
| **Total Fixed Assets** | | **$ XXXX** | |
| **Total Assets** | | | **$ XXXX** |
| **Liabilities** | | | |
| ▪ | **XXX** | **$ XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| **(n)** | **XXX** | **XXX** | |
| **Total Liabilities** | | **$ XXXX** | |
| **Stockholder's Equity** | | | |
| ▪ | **XXX** | **$ XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| ▪ | **XXX** | **XXX** | |
| **(n)** | **XXX** | **XXX** | |
| **Total Stockholder's Equity** | | **$ XXXX** | |
| **Total Stockholder's Equities & Liabilities** | | | **$ XXXX** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوس** راځو د ګوګل کمپنۍ هماغه آزمايښتي بيلانس په نظر کې نيسو او د بيلانس شيټ راپور ورته جوړوو. د دې لپاره چې کار آسانه شي د همغې آزمايښتي بيلانس يو کاپي دلته راوړو او په لاندې توګه عمل کوو:

**Google Inc.**

**Adjusted Trial Balance**

**As of July 31 2021**

| Name of the account | L.F | Debit Balance | Credit Balance |
|---|---|---|---|
| Cash | | $ 13000 | |
| Equipment | | 14000 | |
| Supplies | | 500 | |
| Accounts Receivable | | 2500 | |
| Software | | 6000 | |
| Salaries and Wages Expense | | $ 5000 | |
| Rent Expense | | 2500 | |
| Utilities Expense | | 1600 | |
| Insurance Expense | | 300 | |
| Advertising Expense | | 100 | |
| Income Tax Expense | | 500 | |
| Retained Earnings | | 2000 | |
| Common Stock | | | $ 10000 |
| Dividends | | | 1000 |
| Sales | | | $ 9000 |
| Service Revenue | | | 3000 |
| Note Payable | | | 20000 |
| Account Payable | | | 5000 |
| Total | | $ 48000 | $ 48000 |

هغه حسابونه چې په **Income Statement** پورې مربوط وو هغه مو هلته انتقال کړی اوس راځو هغه حسابونه (**Accounts**) چې په بيلانس شيټ پورې مربوط دی د بيلانس شيټ راپور ته يې انتقالوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Google Inc.**
**Balance sheet**
**For The Month Ended July 31 2021**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **Assets** | | | | |
| **Current Assets:** | | | | |
| ▪ | **Cash** | **$ 13000** | | |
| ▪ | **Accounts Receivable** | **2500** | | |
| ▪ | **Supplies** | **500** | | |
| ▪ | **Software** | **6000** | | |
| | **Total Current Assets** | | **$ 22000** | |
| **Fixed Assets:** | | | | |
| ▪ | **Equipment** | **$ 14000** | | |
| | **Total Fixed Assets** | | **$ 14000** | |
| | **Total Assets** | | | **$ 36000** |
| **Liabilities** | | | | |
| ▪ | **Accounts Payable** | **$ 5000** | | |
| ▪ | **Note Payable** | **20000** | | |
| | **Total Liabilities** | | **$ 25000** | |
| **Stockholder's Equity** | | | | |
| ▪ | **Common Stock** | **$ 10000** | | |
| **Add** | **Retained Earnings** | **2000** | | |
| **Less** | **Dividends** | **1000** | | |
| | **Total Stockholder's Equity** | | **$ 11000** | |
| | **Total Stockholder's Equities & Liabilities** | | | **$ 36000** |

| Assets | = | Liabilities | + | Stockholders' Equity |
|---|---|---|---|---|
| $36,000 | = | $25,000 | + | $11,000 |

تاسي وليدل چي په پورته بيلانس شيټ کي د محاسبي مساوات صدق کړی، يعني د شتمنيو مجموعه چي **36000 ډالره** دی د پورونو او پانګي له مجموعي سره چي **36000 ډالره** کيږي مساوي دی.

پورتنی فارمټ د بيلانس شيټ لپاره ترټولو ساده او آسانه فارمټ دی، خو تاسي کولای شئ چي د محاسبي په بيلابيلو کتابونو او انترنټ کي د بيلانس شيټ لپاره مختلف فارمټونه پيدا او زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم: د نغدي جريان راپور Cash Flow Statement

نغده په يو کاروبار کې ډېر مهم رول لري مثلاً کله چې يو شخص کاروبار شروع کوي نو په اول سر کې ځيني لومړني مصارف سرته رسوي لکه د يو کاروبار قانوني کول، دکاروبار لپاره ماشينري يا سامان آلات اخيستل، همدارنګه د توليداتو او خدماتو د سرته رسولو لپاره د خامو موادو اخيستل او د کارګرو استخدامول او داسې نور... چې ددې ټولو مصارفو تاديه يو اندازه نغدو پيسو ته اړتيا لري.

د نغدي جريان راپور يو مالي راپور دی او مونږ ته دا راښايي چې څنګه يو کمپنۍ د يو مالي دورې په جريان کې نغدې پيسې ترلاسه کوي او څنګه يې په مصرف رسوي. يعني دا راپور مونږ ته د يو مالي دورې په جريان کې د نغدو راتګ (**Cash inflow**) او بيرته تګ (**Cash outflow**) ښايي. **Cash Inflow** ته **Cash Receipt** او **Cash outflow** ته **Cash Payment** هم وايي. دلته د **Cash** نه هدف نغده او يا د نغدو معادل دی. د نغدې جريان په يو کاروبار کې په دريو کټګوريو کې صورت نيسي چې عبارت دي له:

❖ **Cash flow from operating activities (CFOA):**

دلته په عملياتي چارو کې د نغدې جريان څېړل کيږي يعني په **Income Statement** کې چې کوم عناصر شتون لري (عوايد او مصارف) په هغې کې د نغدې جريان ښودل کيږي او په لنډه توګه يې داسې ويلای شو چې عوايد (**Cash inflow**) دی او مصارف (**Cash outflow**) دی. مثلاً که چيرې کاروبار کومې ادارې يا شخص ته خدمات سرته رسولی وي او له هغې څخه يې عوايد لاسته راوړي وي نو دا د کاروبار لپاره (**Cash inflow from operating activity**) ده خو که چيرې کاروبار د خپلو فعاليتونو لپاره مصارف سرته رسولي وي لکه د برق بيل، د تعمير کرايه، د کارګرو مزد او داسې نور... نو دا د کاروبار لپاره (**Cash outflow from operating activity**) ده.

❖ **Cash flow from investing activities (CFIA):**

په دې برخه کې د محاسبې د مساواتو چپ طرف يعني په شتمنيو کې د نغدې جريان څېړل کيږي. که چيرې کاروبار يو پايه کمپيوټر په نغدو خرڅ کړي نو کاروبار ته نغدې پيسې په لاس ورځي نو دا د کاروبار لپاره (**Cash inflow from investing activity**) ده خو که چيرې کاروبار يو پايه کمپيوټر يا موټر واخلي نو کاروبار پيسې مصرفوي چې دا د کاروبار لپاره (**Cash outflow from investing activity**) ده.

❖ **Cash flow from financing activity (CFFA):**

پدې برخه کې د محاسبې د مساواتو ښي طرف ته پروت عناصرو (**Owner equity, liability**) کې د نغدې جريان څېړل کيږي. مثلاً که د کاروبار په جريان کې د کاروبار مالک نور پانګه کاروبار ته راوړي نو ديته (**Cash inflow from financing activity**) وايي خو که چيرې د کاروبار کوم شريک (سهم لرونکی) د کاروبار څخه خپل سهم واخلي او ووايي چې نور نه غواړي چې شراکت مخ ته بوځي نو ديته (**Cash outflow from financing activity**) وايي. اوس تاسې بايد پدې پوه شی چې کوم ټرانزکشن يا کوم راکړه ورکړه د پورته کټګوريو څخه په کوم يو پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نغدي جريان راپور د جوړولو اهداف

- په کاروبار کې د نغدو پیسو د حالت تحلیل
- د نغدو پیسو لپاره لنډ مهاله پلان ګذاري او مدیریت
- د نقدیت ارزیابي
- د مختلفو فعالیتونو څخه د نغدي د جریان تحلیل
- د پالیسیو په جوړولو کې له مونږ سره مرسته کوي.

## د نغدي جريان راپور فارمټ

**XXX Company**
**Statement of Cash Flow**
**For The Month Ended XXX 3X 20XX**

| Particulars | Amount | Amount |
|---|---|---|
| **Cash flow from operating activity:** | | |
| Cash receipts | $ XXXX | |
| Cash Payment | (XXXX) | |
| Cash from operations before tax | (XXXX) | |
| **Net cash generated from operating activities** | | $ XXXX |
| **Cash flow from investing activity:** | | |
| Cash receipts | $ XXXX | |
| Cash Payment | (XXXX) | |
| **Net cash used in investing activities** | | $ XXXX |
| **Cash flow from financing activity:** | | |
| Cash receipts | $ XXXX | |
| Cash payment | (XXXX) | |
| **Net cash used in financing activities** | | $ XXXX |
| **Net increase/decrease in cash and cash equivalent** | | $ XXXX |

**اوس** راځو د ګوګل کمپنۍ آزمايښتي بيلانس او پورتني درې مالي راپورونه په نظر کې نيسو او د هغې لپاره د نغدي جريان راپور **Statement of Cash Flow** جوړوو او په لاندې توګه عمل کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Google Inc.
## Statement of Cash Flow
## For The Month Ended July 31 2021

| Particulars | Amount | Amount |
|---|---|---|
| **Cash flow from operating activity:** | | |
| Cash received from customers | $ 9500 | |
| Cash Paid to employees and suppliers | (5500) | |
| **Net cash generated from operating activities** | | **$ 4000** |
| **Cash flow from investing activity:** | | |
| Cash received from investing activities | $ 0 | |
| Cash used to buy equipment and software | (20000) | |
| **Net cash used in investing activities** | | **$ (20000)** |
| **Cash flow from financing activity:** | | |
| Cash received from stock issuance | $ 10000 | |
| Cash dividends paid to stockholders | (1000) | |
| Cash borrowed from bank | 20000 | |
| **Net cash used in financing activities** | | **$ 29000** |
| **Change in Cash** | | **$ 13000** |
| **Beginning Cash July 1 2021** | | **0** |
| **Ending Cash July 31 2021** | | **$ 13000** |

**Ending Cash: $** 4000 **- $** 20000 **+ $** 29000 **= $ 13000**

## مأخذونه


1. سهر، رفیع الله/ آسانه مالي محاسبه/ 2021
2. **Philips, Libby & LIBBY/ Fundamentals of Financial Accounting/Fifth Edition/ McGraw-Hill Education**
3. **My Accounting Course** (https://www.myaccountingcourse.com/accounting-basics)
4. **Google and Different Websites**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**